سال پنجم شماره ۱۹۰
شماره مسلسل ۸۱۶
یکشنبه ۱۶ اسد ۱۳۸۴ ه ش
۲ رجب المرجب ۱۴۲۶ ه ق
7 August, 2005

PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ ه ش

کونړکې یو جهادي قوماندان ۳۶ میله وسله وسپارله



کونړکې یو جهادي قوماندان د زمري په ۱۲ مه نېټه په خپله خوښه خپله ۲۲ میله درنه او سپکه وسله دولتي چارواکو ته وسپارله

دې جهادي قوماندان ظاهر خان چې د کونړ د اسعد آباد اوسېدونکی او دجمعیت اسلامي ګوند پوړي یې اړه لرنه. دزمري په ۱۲ مه نېټه دوسلو دسپارلو پر مهال زمنه وکړه چې دی به له دولت سره هر ډول همکاري کوي.

د کونړ والي اسدالله وفا چې په دې مراسمو کې یې ګډون کړی و پژواک خبري آژانس ته وویل چې له دولت څخه مرورو کسانو ته د حکومت دروازې تل خلاصې دي دوی چې هر وخت وغواړي کولی شي چې په دغه ملي پیوستون کې له دولت سره یو ځای شي

یک قوماندان پولیس سرحدی همراه با ۲۵ سرباز اختطاف شد

یک قوماندان قطعه منتظره پولیس سرحدی مربوط زون شمال شرق با ۲۵ تن از سربازانش از تاریخ ۱۲ اسد بدینسو در ولسوالی راغ ولایت بدخشان توسط افراد مسلح ناشناس اختطاف شده اند.

مل پاسوال شاه جهان نوری قوماندان امنیه ولایت بدخشان با تذکر مطلب فوق به آژانس خبری پژواک گفت که قاچاقچیان . عنایت الله قوماندان قطعه منتظره پولیس سرحدی را با عساکرش از پوسته سرحدی ولسوالی راغ اختطاف نموده اند.

ص ٤

سرمقاله

د لوی او بښونکي خدای په نامه

ولې په خپل هیواد کې افغان مهاجرو ته د ژوند کولو زمینه نشو برابرولی؟

له دروميليونو څخه زيات مهاجر يوازې په هغه ګاونډي او دوست! هيواد کې دژوند ترخې شپې ورځې تيروي چې اوس يې ددوستی په جامعه کې هلته په ژوند کولو تنګ کړی دی.

په دې ورځو کې دپاکستان دولت په هغه هيواد کې دناارامیو دله منځه وړلو په پلمه او په پاکستان کې دتروريستی عناصرو د روزلو او استخدام کولو په باره کې د نړيوالو له تور څخه دخلاصون په خاطر ددې پر ځای چې په تروريستی عناصرو پسې ځراغ راواخلي په هغو افغان مهاجرو پسې يې کوتك را اخيستی چې د بيلا بيلو عواملو له امله دوطن له خوږې غيږې څخه مهاجرت ته اړ شوی او ګاونډي هيواد ته يې پناه وړې ده.

که څه هم په پاکستان کې افغان سفير دهغه هيواد دکورنيو چارو له وزير څخه وغوښتل چې افغان مهاجر خپلې خوښې ته پرېږدي خو هغوی تصميم نيولی چې له پينډۍ او اسلام آباد څخه افغان مهاجر و باسي چې شته والی يې دناامنيتی ويره بولي او په هغه هيواد کې يې افغان مهاجر دپوليسو له خوا زيات په تکليف کړی دی.

۴مخ

درې مهم طالبان ونيول شول

د زابل ولایت دشینکۍ ولسوالۍ ولسوال وایي چې درې تنه مهم طالبان یې دزمري په ۱۲ مه نېټه په داسې مهال کې نیولي چې تازه سیمې ته راغلي وو. دشینکۍ ولسوال وزیر محمد پژواک خبري آژانس ته وویل چې دوی ته راپور رسیدلی و. چې د طالبانو ځیني دسرکسان د تخریبي کارونو لپاره سیمې ته راغلي دي

ده زیاته کړه چې ملي اردو او ائتلافي ځواکونو ددغې ولسوالۍ په بولان او ممو کلیو کې ګډ عملیات وکړل او درې تنه مهم طالبان یې ونیول

٤مخ

حکومتي چارواکو غزنې کې موټرسايکلونه او ټيليفونونه نيولي دي

دکورنیو چارو وزارت وایي چې د زمري په ۱۲ مه نېټه یې د غزني په ناوې ولسوالۍ کې امنیتی ځواکونو یو شمېر وسلې، موټر سایکلونه او ګرځنده ټېلیفونونه ترلاسه کړي دي

د کورنیو چارو د وزارت ویاند لطف الله مشعل پژواک خبري آژانس ته وویل چې د غزني امنیتی ځواکونو تېره ورځ د یو لړ عملیاتو په ترځ کې ددغه ولایت د ناوې ولسوالۍ په مربوطاتو کې له طالبانو څخه درې موټر سایکلونه، دوه ګرځنده ټېلیفونونه او څو میله وسله نیولې ده.

مشعل زیاته کړه: «ددغې پېښې په اړه مو تراوسه څوک نه دي نیولي خولاس ته راغلي شیان دطالبانو دي»

له دې پېښې څخه درې ورځې وړاندې دملی اردو سرتېرو د ائتلافی ځواکونو په ملګرتیا د دې ولایت د خوګیانو په ولسوالۍ کې یو زیات شمېر وسلې او مهمات هم نیولي وو.

درې تنه د زنا په جرم ونيول شول

د کابل ښار د پنځمې امنیتي حوزې امنیتي چارواکو د زمري په ۱۳مه نېټه د شپې په ۱۲ بجو درې کسه د زنا په جرم د قرغې په بلاکو کې ونیول

د پنځمې امنیتي حوزې جنایي امر، زلمي اوریا خېل په دې اړوند پژواک خبري اژانس ته وویل: «د قرغې په شپږم بلاک کې چې تر رغوني لاندې واو چا په دې کور کې ژوند نه کاوه، د شپې کابو یوه بجه وه چې موږ درې تنه د زنا په جرم چې نشه وو، ونیول»

٤مخ

پاکستان درې نور توکي هم د افغان سوداګرۍ لست کې شاملوي

پاکستان ویلي دي چې ډېر ژر به درې نور توکي (تلويزيونونه. ټېلیفونونه او ټایرونه) د ټرانزټ ترېډ په لست کې شامل کړل شي

د پاکستان د محصولیا ګمرکاتو (سي بي ار) رئیس عبدالله یوسف دزمري په ۱۳مه نېټه پژواک خبري آژانس ته وویل چې له منع ګرځول شوي لست څخه د دغو درېو توکو د وېستلو او د ټرانزټ ترېډ په منل شوي لست کې د شاملولو لپاره د تېرې میاشتې په دریمه نېټه په کابل کې د دواړو هېوادو ګډ اقتصادي کمیسیون غونډه کې مشوره شوې وه.

عبدالله یوسف زیاته کړه: «په ټرانزټ ترېډ کې به دغه درې واړه توکي هم شامل شي او دې تجارت ته به قانوني شکل ورکړل شي»

عبدالله یوسف وویل چې دواړه هېوادونه به داسې لارې چارې ولټوي چې له کبله به یې ببرته پاکستان ته د ټرانزټ له لارې افغانستان ته دراړول شویو توکو د صادرولو مخه ونیول شي چې په دې توکه د پاکستان اقتصاد ته زیان ونه رسېږي

٤مخ

دائتلاف درو سرتيرو ځانونه له لاسه ورکړل

په ختیځ ولایت کنړ کې سیند ته دایتلافی ځواکونو دیو موټر په لویدو سره ددغو ځواکونو دوو سرتیرو خپل ژوند له لاسه ورکړ ی دی په افغانستان کې دملیشو ائتلافی ځواکونو له لوری په دې اړه په خپره شوې خبر پاڼه کې راغلی چې سیند ته د موټر تر لویدو وړاندې دوو نورو سرترو خپل ځانونه له موټر نه په وچه غورځولی وو دغه دواړه سرتیری هم ټپیان شوی دی چې دیوه درملنه دپښې په ځاې کې شوی او بل تن د درملنې لپاره دبګرام هوایی اډې ته لیږدول شوی دی.

۴مخ

افراد مسلح تهدید مان می کند

یکعده کاندیدان انتخابات پارلمانی در ولایات تخار ادعا دارند که افراد مسلح غیر مسؤول مانع مبارزات انتخاباتی آنها شده و آنها را تهدید به مرگ مینمایند . اما کمیسیون انتخابات میگوید که تا حال شکایت رسمی کاندیدها را دریافت نه کرده است.

اگر چه کمیسیون انتخابات تاریخ ۲۲ اسد سال جاری را سر آغاز مبارزات انتخاباتی برای کاندیدان در کشور اعلان نموده، اما برخی کاندید ها میگویند که آنها قبل از آن تاریخ، میخواهند با مردم مناطق خود دیدار نمایند که با اخطار و تهدید افراد مسلح مواجه میشوند.

محمد اکرم کارگر کاندید ولسی جرگه در ولسوالی چاه آب ولایت تخار به آژانس خبری پژواک ادعا کرد: «من دو روز قبل از شهر تالقان وارد چاه آب شدم که با مردم صحبت نمایم، اما افراد مسلح نه تنها مرا تهدید کردند که اگر دوباره به اینجا برگردم، کشته خواهم شد ، بلکه مردم را نیز تهدید میکردند که به کاندید مورد نظر آنها رای بدهند»

وی افزود که این افراد مسلح مربوط یک قوماندان محلی میباشند. اما وی از آن قوماندان نام نه بُرد.

همچنان حاجی عبدالمجید کاندید ولسی جرگه در ولسوالی دشت قلعه ولایت تخار ادعا دارد که او هفته گذشته وارد آن ولسوالی شده بود که مشی خود را به مردم تشریح نماید، اما افراد مسلح وابسته به بعضی قوماندانها به او هُشدار دادند که در صورت آمدن دوباره به این ولسوالی ، زنده گی اش در خطر خواهد بود.

به ادعای وی، او بخاطر همینگونه تهدیدات در ولایت کندز به سر بُرده و نمی‌تواند بخاطر مبارزات انتخاباتی آینده، وارد آن ولسوالی گردد.

با این حال، یکعده کاندیدهای دیگر، قوماندانی امنیه ولایت تخار را متهم میکنند که به طرفداری از بعضی کاندید ها فعالیت مینماید.

ص ٤

مدیر امنیت ولسوالی دای چوپان کشته شد

مدیر امنیت ملی ولسوالی دای چوپان ولایت زابل، صبح ۱۳ اسد توسط افراد مسلح نامعلوم، به قتل رسید.

ظفرالله خان ،ولسوال دای چوپان به آژانس خبری پژواک گفت که مدیرغلام رسول ، از منزلش بطرف دفتر در حال حرکت بود که به قتل رسید.

وی ادعاء نمود که سه تن را، به اتهام دست داشتن در قضیه دستگیر نموده اند.

از طرف دیگر مفتی لطیف الله حکیمی سخنگوی طالبان، طی یک تماس تیلیفونی با آژانس خبری پژواک، مسؤولیت قتل موصوف را به عهده گرفته است.

این درحالیست که رئیس شورای علماء ولسوالی مارجه ولایت هلمند نیز به تاریخ ۱۳ اسد ، طی یک حمله مجروح گردیده و به تاریخ ۱۱ اسد ،حاجي قیوم خان کارمند دفتر انتخابات این ولایت، توسط افراد مسلح نامعلوم به قتل رسیده بود.

په پکتيکا کې يو تن امريکايي سرتېرى ووژل شو

یو امریکایي سرتېری د زمري په ۱۳مه د افغانستان په سوېل ختیځ ولایت. پکتیکا. کې ووژل شو. او یو بل سرتېری ټپي شو. یو تن د ملي اردو سرتېری هم ټپي شوی دی.

په کابل کې امریکایي پوځ په یوه خبرپاڼه کې وویل چې پېښه د اورګون په ولسوالۍ کې هغه وخت رامنځته شوه چې د دوی ګاډی د سړک له غاړې په یوه بم وخوت. په اورګون کې د امریکایانو یوه پوځي اډه هم مېشته ده.

٤مخ

ACKU

د ولسي جرګې د کانديدانو نښانونه په څلور کنجه کې دننه دي

سمبولهای کاندیدان ولسی جرگه در چهار ضلعی قرار دارند







د ولايتي شوراګانو د کانديدانو نښانونه په دايره کې دننه دي

سمبولهای کاندیدان شوراهای ولایتی در دایره ها قرار دارند







نښانونه کېدای شي يو بل ته ورته وي، نو د خپل کانديد په نښه کولو کې ډېر پام وکړئ

سمبولها امکان دارد با هم مشابه باشند، هنگام انتخاب کاندید مورد نظرتان محتاط باشید





اگر شما نیاز به معلومات بیشتر در باره انتخابات ولسی جرگه و شورای ولایتی دارید، بطور رایگان به شماره 180 زنگ بزنید. کارمندان انتخاباتی مرکز معلومات رای دهندگان به سوالات شما همه روزه از شنبه تا پنجشنبه از ساعت 7 صبح الی 7 شام پاسخ خواهند داد.

که چېرې تاسو غواړئ چې د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ټاکنو په هکله لا زيات مالومات تر لاسه کړئ، مهرباني وکړئ د ۱۸۰ شمېرې ته وړيا ټليفون وکړئ.
د رايې ورکوونکو د مالوماتي مرکز د ټاکنو کارکوونکي به ستاسو پوښتنو ته د شنبې له ورځې څخه د پنجشنبې تر ورځې پورې، د سهار له اوو بجو څخه د ماښام تر اوو بجو پورې ځوابونه ووايي.

زموږ هېواد، زموږ راتلونکې، زموږ رايه

کشور ما، آینده ما، رای ما

متصدي: ناصر بشر

راتلونکی د ځوانانو ده

په پام کې ده چې د روان کال د سنبلې په ۲۷ نیټه پارلماني انتخابات د دښمن له مذبوحانه هلو ځلو سره سره ترسره او کامیاب شي.

په یوه ټولنه کې چې مرکزي واکمني ټینګیږي قانونیت رامنځته کیږي او دغه راز د دموکراسۍ لپاره غړونه پورته کیږي پارلمان انتخابات د ټولنې په ژوندانه کې که چیرې د خپلو معیارونو په اساس ترسره شي د نیکمرغۍ لارې وباسي او ټولنه د حق او عدالت لورې ته برابروي.

په انتخاباتو کې هر ډول اشخاص ځانونه کاندیدولای شي چې د قانون په چوکاټ کې برابر وي. دا خو د کاندیدانو خوا ده چې د خلکو او ټولنې د ابادۍ او سوکالۍ لپاره یې څه اهداف په مخکې نیولي وي خو هغه څه چې د انتخاباتو په لورې مهم ښکاري هغه د انتخاباتو د کیدون په ارزښتونو ځان پوهول دي او دغه راز د کاندیدانو په باره کې د هغوی د ژوند او تیرو کړنو په هکله پوهاوی د خلکو لپاره ضروري دي. ډیر خلک او په تیره بیا ځوانان ګورو چې وایي: چې څه کیږي هغه به کیږي دا سې خبرې د بې توپیرۍ نښې دي، له یو ځوان څخه چې عبد الحمید نومیږي د کاړته نو د لیسې شاګرد دی ومې پوښتل: انتخابات څه ته وایي؟

راته وایي انتخابات دی ته وایي چې وکیلان ونیول شي پارلمان جوړ شي.

پارلمان څه ته وایي؟

نه پوهیږم.

د لارې په اوږدو کې یوه تکسي کې له یوې سپرلۍ څخه چې دځوانانو په ډله کې راځي پوښتم.

وروره! که ته رایه ورکوې څه ډول کاندید ته به یې ورکوې؟

په ځواب کې راته وایي: قسم دی چې هغه بل کارت هم را سره خوشې په کور کې پروت دی هیڅ ته مې رایه ورنه کړه ځکه کرزی صاحب لا د مخه ټاکلی شوی و هغه پوهیده چې زه کیږم او اوس وګوره په نره حکومت کوي او هغه وعدې تشې لاړې.

دا نتیجه مې واخیسته چې زمونږ په خلکو کې د دښمن پوره تبلیغات دي ولسمشر کرزی په قانوني ډول د خلکو د ازادو رایو پواسطه وټاکل شو.

خو دښمن دومره کار کړی دی چې زمونږ خلک یې د خپلو قانوني انتخاباتو په وړاندې شک من کړی دی. دویم دا چې زمونږ خلک او په تیره ځوانان د پارلمان او د انتخاباتو په هکله کافي پوهه نه لري. د انتخابتو ارزښت ورته تشریح شوی نه دی.

عبد الله چې کابو د شلو کالو زده کوونکی دی ځان د محمود طرزي د ښونځي زده کوونکي بولي وایي: ما هیڅ کارت اخیستی نه دی څه یې کوم چې څوک کیږي هغه به کیږي دومره وخت نه لرم چې زه چاته رایه ورکړم هر چا خپل مطلب مخکې کړی دی چا سره د وطن او خلکو غم نشته.

په ځواب کې ورته وایم: که چیرې ستاسو په کوڅه کې دوه کسه کاندید وي او هغه یو ښه سړی وي او هغه بل ستا په فکر خراب وي او هغه خراب کاندید له با اخلاقه او خدمت ګذار کاندید سره په رایو کې مساوي شي پدې وخت کې به ونه وایې چې کاشکې مې کارت اخیستی وای او ښه کاندید ته مې ورکړی وای خو چې خپلې خبرې راټولې کړو ویلای شو چې زمونږ سپین ږیرې خو لا څه کوي چې ځوانان هم نه یوازې دا چې له انتخاباتو څخه پوره پوهه نه لري بې توپیره دي او اکثره پدې نه پوهیږي چې انتخاباتو څه ته وایي او مونږ نشو کولای چې یوازې د پوسترونو په خپرولو او خپلو خلکو او ځوانانو ته لازمه پوهه ورکړو او پدې یې قانع کړو چې د انتخاباتو په کیدون کې خپله ونډه مهمه وبولي.

ډیر ځوانان د پارلمان په هکله نه پوهیږي

جوړ به شي خو....

د پیښور د مچیني په کرښه د مترې په سیمه کې یو دکان څخه سودا اخلم دکاندار راته وایي: هغه مهاجر سره به وي مهاجر سه ګوزم کابو د ۱۴ کلونو په یو دکاندرا دی ور نږدې کیږي سودا ترې اخلم په پکتیا واله لهجه راسره خبرې کوي ورنه پوښتنه کوم:

راته وایي: د پکتیا یو پلار مې مړ شو دا دکان به هغه کاوه زه په سکول کې وم اوم مې پاس کړی دی اوس مې سکول پریښود دکان کوم. ځکه چې پلار مې نشته.

پلار دی مړ شو، شهید شوی که څنګه؟

_ څه بیماري ورته پیښه شوه اسپتال کې لږ وخت ژوندی و بیا مړ شو.

هغه ماته خبرې کوي خو په سترګو کې یې اوښکې راځي ژاړي

_ ولې ژاړې نو؟

غلی شو.

بیا ترې پوښتم خو لږ څه شیبه وروسته. نو ته اوس سکول ته نه ځې؟

_ که زه لاړ شم د دکان بندیږي ورونه مې مانه کشران دي.

دلته مو څوك خپلوان نشته؟

شته هر سړی خپل کار کوي کاکا مې شته خو موږ سره خبرې نه کوي چې پلار مې مړ شو بیا اسپتال ته ورغی بل چا خبر کړی و.

_ دلته له نورو خلکو سره ستاسو راشته درشه څنګه ده؟

مونږ خو مهاجر یو هر وخت مونږ ته وایي چې خپل وطن ته لاړ شئ مونږ دلته له نورو خلکو سره تګ راتګ نه لرو اختر کې هم خپل کور کې اوسیږو یا به پلار سره دکان ته راتلو یا به مې درس ویلو.

خپل وطن ته د تلو نیت لري که څنګه؟

_ زمونږ وطن ته

_ هو.

زمونږ وطن خو ما لیدلی نه دی پلار مې ویل چې هلته سکول ډیر لیرې دی.

د پلار په کلمه سره یې بیا سترګې را ډکې شوې.

څه یې په زړه کې ورګرزیدل ورته وایم.

پلار دی کله مړ شو؟

څلویښتم مولانه دی کړی مور مې وایي چې یو ختم د قارن مجید به وکو.

نو ته اوس د سکول درسونه به څنګه کړې؟

سکول رانه پاتې شو.

پدې وخت کې یو څوك راغی څه سودا یې ترې وغوښتنه هغه په سودا پسې پورته شو ما چې د هغوی خیرې ته ولیدل یو نقطه راته پیدا شوه ورو ورو لوئیده لوئیده یوه هدیره په کې راته ښکاره شوه چې د ډیرو قبرونو او جنډو تر څنګ یو تازه قبر ته ډیر ماشومان په چیغو چیغو ژاړي او بیا داسې ماشومان راته په ذهن کې انځور شول چې پلاستیکونه ټولوي او لڅې پښې ګرزي.

په دې زړه کې وایم دا هغه بچیان دي چې د جګړو او غریبۍ له امله د خپلې خوږې خاورې له غیږې څخه را مهاجر شوي دي او ډیرو لا تر اوسه پورې خپل هیواد هم لیدلای نه دی.

دا صحنې مې په ذهن کې د سینما د پردې په خیر تیرې شوې دا ځل زه په چورت کې تللای وم چې هغه ماشوم راته وویل: کاکا ته د کوم ځای یې؟

بچیه زه هم د هماغه بدبخته وطن یم چې تاسو ترې راغلي یې.

راته وایي:

کاکا: وطن به جوړ شي.

ورته وایم: جوړ به شي خو چې....

نوره خبره مې ورته ونشوای کړای ما وی چې په ذهن یې څه بده اغیزه ونه کړي ترې روان شوم یوازې دومره مې وویل: خدای پامان.

دلته خو بیرته بې سواده شوم

سکندر د تنکیو ځوانانو له ډلې څخه دی خپله د ننګرهار د کامې ولسوالۍ اوسیدونکی دی خو د اقتصادي ستونزو د لیرې کولو او د خپلې کورنۍ لپاره د نفقې د پیدا کولو په خاطر مجبور شوی دی چې ښوونځی او مدرسه پریږدي مسافري په ځان قبوله کړي.

سکندر د کابل _ جلال آباد د لویې لارې په اوږدو کې په یوه داسې هوټل کې شاګرد دی چې دلته بند د خامه لارې له ګردونو څخه په تکلیف شوی ستړي ستومانه مسافر د یوې شیبې لپاره یوازې په تندی سره د ډوډۍ خوراك لپاره ورځي. نوموړی ناروغه ښکاري خو مجبور دی چې وګرزي ډوډۍ راوړي او خالي لوښې ټول کړي.

سکندر وایي چې زمونږ کور وایي چې پخوا په شاه شهید کې و خو دغه ځای مې نه دی لیدلی ډیر وړوکی وم مور مې راته کیسې کوي چې په کابل کې جنګونه شول زما پلار یو تکسي موټر درلوده خو هغه له موټر سره ورك شوی دی زمونږ کور له شاه شهید څخه پیښور ته لاړ کوم چا د یتیمانو کارت راته اخیستی و په مدرسه کې وم.

دا چې ولې یې مدرسه ونه ویله وایي: ما به ویلې وای خو وطن ته راغلو دلته هم وچکالي شوه خپله ځمکه نه لرو د یو بل امسایتوب کوو کور کې تکلیف و مکتب رانه هم پاتې شو زمونږ خپلوان دی هوټل کې شاګرد کړم نور ارمان مې زړه کې نشته خو کاشکې چې مکتب مې ویلې وای دلته خو بیرته بې سواده شوم.

ایا مونږ د سکندر په څیر نور ډیر ځوانان د هیواد په ګوټ ګوټ کې نه لرو چې د موجودو شرایطو په شته والي کې له تعلیم څخه څه چې له سواد څخه هم بې برخې شوي وي.

باید ووایو چې په زرګونو ځوانان د سکندر په څیر په زړه کې یو عالم ارمانونه لري په هماغه د سپرلۍ په موټر کې چې کابل ته راځم په لاره کې د بار وړلو یو لوی او اوږد ګاډی له دې امله چې په ګولای کې د سرك په منځ کې وران شوی دی لاره بنده ده سر له دې چې لاره یو طرفه اعلان شوی خو ځینې ځینې ګاډي له مقابل لورې څخه هم د پیسو په مقابل کې راخوشې کیږي خو لاره دواړو خواوو ته بنده ده ګاډي ولاړ دي په بوتلونو او ترموزونو کې اوبه خلاصې شوی ماشومان له تندې په تکلیف دي څو کسه ځوانان په موټر کې ناست دي خپلو کې په ټوکو بوخت دي هر یوه سره په دسمالونو کې جامې دي او داسې ښکاري مسافرۍ ته روان دي.

له یوه پوښتم: وروره تاسو چیرته روان یې؟

په ځواب کې راته وایي: مونږ هغه بدبخته خلك یو چې بدبختي را په مخه کړې یو مونږ د روداتو د یوه کلي یو کابل ته ځو هلته خښتي اچوو دغه یو ګوري چې دا غټ سر یې دی مونږ همدغه راوستی یو دی بلد دی او مونږ نابلده یو. دولس کاله مو په مکتب کې تیر شول او اوس خښتوته وړاندې شو قسم دی که په عمر مو خښتې اچولي وي پلار ژوندی و بې غمه وم وګوری دغه دی زمونږ د ځوانانو برخلیك.

دا ځکه چې مونږ جګړو ته خوشاله یو مونږ دی ته خوشاله یو چې د نورو په لمسون خپل وطن وران کړو خپل افغانانو ووژنو او له ترقۍ څخه ځان وروسته کړو د ساینس او تکنالوژۍ په برکت جوړ شوی توکی خوښوو او هغه کاروو خو زده کړې ته یې په سپکه ګورو ښوونځیو ته اور اچوو.

که چیرې په وطن کې داسې جګړې چې ټول بنسټونه یې راته ولړزول شوی نه وی اوس به زمونږ ځوانان له ښوونځیو څخه بې برخې نه پاتې کیدل او یا به له ښوونځیو څخه وروسته په فزیکي کارونو نه بوختیدل.

د فزیکي کارونو کولو ته هم اړتیا ده یو څوك یې باید سرته ورسوي خو هغه چې ۱۲ کاله د ښوونځي له زده کړې سره اشنا شي لازمه ده چې داسې اشخاص د راتلونکي لپاره کادرونه وروزل شي او یوازې په څلورو کلونو سره له راتلونکي زده کړې څخه بې برخې نشي.

ACKU

پیوسته به گذشته

نقش کشور های همسایه در استحکام امنیت و ثبات سیاسی افغانستان

محمد امین (فروتن)

حقیقت این است که تنها رژیم جدیدي که در نتیجه ء کودتاي نظامي ۷ ثور در افغانستان روي کار آمده بود بر اساس اندیشه هاي کمونیستي و مداخله ء مستقیم اتحاد جماهیر شوروي در افغانستان هوادار افراطي اتحاد شوروي محسوب میشد . اما افسانه ء که گویا روسها قصد داشتند با اشغال افغانستان خودرا به آبهاي گرم نزدیک سازند ساخته وپرداخته ء برخي از حلقه هاي معلوم الحال و افراطي در پاکستان محسوب میشد که مي خواستند با طرح این گونه قصه پردازي ها و تؤهمات جهان متمدن بویژه کشورهاي اسلامي را به یک خطر جدي بیش از قابل پیشبني متوجه سازند . و بدین سان با کشور هندوستان نیز که برسر مسأله جامو وکشمیر از همان اوائیل تأسیس کشور پاکستان سر نزاع را گرفته بودند تصفیه حساب کرده باشد ؛ مأسوا ازاینکه کشور پهناور هند داراي یک نظام نهادینه شده ء دموکراتیک است که بر فلسفه ء "عدم خشونت" مرد لاغر اندام و کرباس پوش «موهنداس کرم چند گاندهي» استوار بود ، حین اشغال افغانستان توسط اتحاد جماهیر شوروي علي الرغم آنکه با توجه به هم مرز بودن افغانستان با پاکستان ، مأمورین دولت خانم اندرا گاندهي که حین اشغال افغانستان برسر کار آمده بود به خوبي میدانستند که با حضور فعال مامورین امنیتي و اطلاعاتي پاکستان هیچگونه شانسي جهت کمک و یاري به مهاجرین افغان ازخاک پاکستان موجود نیست لذا باید با حضور کاردار خویش در کابل به صورت غیر مستقیم جنبش مقاؤمت مردم مسلمان افغانستان را یاري رساند . تا جائیکه اکنون دیده میشود آن شیوه ء کمک رساني به مجاهدین مفید تر و واقعبینانه تر از تمامیت خواهي هاي بوده که برخي دیگر از کشور هاي همسایه بصورت علني مطالبه مي نمودند و تا اکنون نیز ادامه دارد . از آنجائیکه در تمامي دوران اشغال افغانستان توسط شوروي مناسبات میان هند و پاکستان وخیم بوده و هیچکسي اجازه نداشتند که از راه مرز پاکستان وهند وارد خاک هند شود لذا حضور دیپلوماتیک هند در کابل که علاوه بر هموطنان هندوي ما که از راه هوائي بصورت قانوني خاک کشور را ترک میکردند ، ده ها هزار هموطنان دیگر ما نیز از راه دهلي جدید داخل مقاؤمت گردیدند ،که نه میتوان با آساني نقش حکومت دموکراتیک خانم گاندهي را در تقویت نهضت مقاؤمت که علیه اشغال افغانستان توسط شوروي بوجود آمده بود نا دیده گرفت . همچنان نقش هیات دیپلوماتیک هند در کابل که با برخي هسته هاي مقاؤمت اسلامي ارتباط پنهاني برقرار کرده بودندو در زمینه ء انتقال اطلاعات به آژانس ها و منابع خبري جهاني آنها را یاري میرساندند قابل یادآوري است . باید با امانت کامل خاطر نشان سازم که من خود شاهد ملاقات آقاي رام ساتهي وزیر دولت هند در امور خارجي آنزمان با یکي از بلندترین اعضاي نهضت مقاؤمت اسلامي در کابل بوده ام که در سال ۱۹۸۰ میلادي در منزل آقاي «بي دي» آتشه ء تجارتي وقت سفارت هند در کابل صورت گرفت و طي آن ملاقات از سران مقاؤمت جهت یک بازدید رسمي از دهلي جدید دعوت به عمل آمد . اما با تأسف و دریغ که وقتي این مؤضوع به اطلاع سازمان اطلاعات ارتش پاکستان رسید نه تنها آن دعوت مؤرد پذیرش و اجرا قرار نه گرفت بلکه شخصي که در آن جلسه محرمانه سیاسي حضور داشت با بي رحمي تمام بدست کساني که با سازمان هاي جاسوسي و امنیتي پاکستان ارتباط داشته اند از صحنه ء سیاسي حذف گردید . فاکتور مهم دیگري که اتهام وابسته گي هندستان با روسیه ء شوروي دامن زد نقش فعال هند در بوجود آوردن جنبش کشورهاي غیر متعهد بود که در پرتؤ شعار استراتیژیست هاي قصر سفید "هرکي با ما نیست دشمن ماست" در منطقه ء حساسي چون جنوب آسیا خود زمینه ساز این نوع اتهامات مي گردد ؛ من بر این باور ام که سیاست هاي استراتیژیک کشور پاکستان به حیث بزرگترین جانب این تراژیدي خود زمینه ساز بسیاري از معادلات گردیده است که در طي چندین دهه مؤجودیت خود وظائف مهمي را بدوش تمامي فعالان سیاسي جامعه ء پاکستان واگذار ساخت جهانگشائي روسیه به سوي آسیا تا سال ۱۹۱۷ میلادي را استیلاي ترکستان مینامیدند و پس از سال ۱۹۱۷ به گونه ء شرم آوري پروسه ء ارتباط یا پیوستن آسیاي میانه به روسیه شوروي نام گذاري نمودند . وبدین ترتیب در مقابل امپراطوري انگلیس سد محکمي را بوجودآؤردند . در سالهاي بیستم و چهلم قرن نزدهم از سوي روسیه گامهاي استوار نظامي و دیپلماتیک براي پیشرفت نظامي وسیاسي در قلب آسیا برداشته شد . در اواخر قرن نوزدهم تا زمان کنوني شاهد حوادث و وقائع تکاندهنده اي در اطراف افغانستان هستیم ، که روسیه در تمام این دوران نقش تعیین کننده در سرنوشت افغانستان و جایگاه استراتیژیک آن در نظام منطقه اي و بین المللي داشته است .

ادامه دارد

افراد مسلح تهدید . . .

خیر محمد سمسور کاندید ولسی جرگه مربوط جنبش ملی اسلامی در ولسوالی کلفگان تخار مدعی شد «افراد مسلح .ما را تهدید میکنند و برخی افراد ناشناس از طریق تیلفون به ما اخطار میدهند که نباید دراین ولسوالی کمپاین انتخاباتی نمایید و وقتیکه به پولیس شکایت میکنیم، در برابر شکایات ما بی اعتنایی می نمایند» اما سید یاسین دهزاد مسؤول بخش اطلاعاتی دفترانتخابات در تخار میگوید که آنها تا هنوز کدام شکایت رسمی را از سوی کاندیدان در مورد تهدید آنها توسط افراد مسلح ، به دست نیاورده اند. دهزاد به آژانس پژواک گفت که سه کاندید متذکره در دفتر انتخابات به حیث کاندید به رسمیت شناخته میشوند و اگر کاندیدها شکایت رسمی را که دارای اسناد و شواهد باشد به دفتر انتخابات ارائه بدارند، آنها این شکایت را به مسؤولین امنیتی خواهند رسانید. طبق اعلان کمسیون انتخابات، کاندیدها میتوانند بعد از تاریخ ۲۲ اسد . ت قبل از ۴۸ ساعت از روز تدویر انتخابات (۲۷ سنبله) سال جاری، به مبارزات انتخاباتی بپردازند.

از جانب دیگر، قوماندانی امنیه ولایت تخار، حمایت از کاندیدها را رد نموده و خود را مسؤول امنیت میداند. دگروال عبدالروف آمر اوپراتیفی قوماندانی امنیه تخار اظهار داشت که پولیس مسؤ ول تامین امنیت کاندید ها بوده و اگر کاندیدها شکایت مستند از دخالت پولیس در فعالیتهای خود داشته باشند. با پولیس برخورد قانونی خواهد شد ادعا ی این کاندید ها ، بعد از آن انعکاس یافته است که دو ماه قبل تظاهراتی از سوی مردم در ولسوالی های دشت قلعه و چاه آب بر ضد یکعده قوماندانان محلی به راه افتید و مردم موجودیت سلاح درنزد قوماندانها را تهدید برای انتخابات پارلمانی دانسته بودند که بعد از آن قوماندانهای متذکره، سلاح های خود را به دولت سپردند.

در ولایت تخار ۹۹ نفر در ولسی جرگه و ۱۰۰ نفر در شورای ولایتی کاندید گردیده اند که شش زن در کاندیدان ولسی جرگه و چهارده زن در کاندیدان شورای ولایتی شامل آنها میباشند

دري مهم طالبان...

وزیر محمد وویل چې نیول شوي طالبان له ائتلافي ځواکونو سره دي او هغوی ترې پلټنې کوي

بل خوا دطالبانو ویاند مفتي لطیف الله حکیمي د دریو تنو نیول شویو طالبانو په هکله ناخبري وښوده

نوموړي له یو نامعلوم ځای څخه دټیلیفون په لیکه پژواک خبري آژانس ته وویل چې په شینکی ولسوالی کې یې یو دولتي موټر په بم الوزولی او اته تنه دولتي سرتیري یې وژلي دي

خو دشینکی ولسوال دموټر په بم الوزول مني او وایي چې په دغه چاودنه کې دولتي سرتیرو ته کوم زیان نه دی رسیدلی

په داسې حال کې چې د زابل دوالي ویاند د دزمري په ۴مه . د هغو لسو طالبانو دنیول کیدو خبر ورکړی و . چې دده دوینا له مخې ، تازه له پاکستان څخه دورانکاری په نیت راغلي وو

پاکستان دري نور توکي...

عبدالله یوسف زیاته کړه : «د تلویزیون ،ټایر ، ټیوب او ټیلیفونونو په ټرانزټ ټریډ کې د شاملولو لپاره دپاکستان دسوداګرۍ وزارت ته مکتوب لیږل شوی چې په نږدې راتلونکي کې به اعلان شي »عبدالله یوسف وویل چې له دې کار سره به ددواړه هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ اړیکې نورې هم زیاتې شي

په ټرانزټ ټریډ کې ددې دریو توکو له شاملولو سره به په منع شوي لست کې یوازې درې توکي یعني خوراکي تېل ،سګرېټ او سپیرپارټ پرزه جات، پاتې شي .په اسلام آباد کې د سوداګرو داتحادیې یو غړي سعد مشتاق پژواک خبري اژانس ته وویل چې د پاکستان له لوري دا یوه ډېره ښه پرېکړه ده چې ورسره به د افغانستان او پاکستان ترمنځه سوداګریزې اړیکې نورې هم ټینګې شي »

په اسلام آباد کې یو اقتصاد پوه عطاءالله یوسفزي پژواک خبري اژانس ته وویل چې که له افغانستان سره سوداګریزې اړیکې له نظره وغورځول شي ، نو دا به یوه ډېره لویه غلطي وي

دده په وینا له دې سره به نه یوازې دمیلیونو ډالرو سوداګري له لاسه ورکړو بلکې داسې هېوادونه به له افغانستان سره خپلې اړیکې ټینګې او پښې ښخې کړي چې پاکستان لپاره ستونزې راولاړولی شي. د افغانستان دمالیې دوزارت ویاند عزیز شمس پژواک خبري آژانس ته وویل چې د تېر کال اقتصادي کمیسیون دغونډې پر مهال دا فیصله شوې او دعملي کولو لپاره یې نېټه نه ده ټاکل شوې

دامهال پاکستان له افغانستان سره دکال څه دپاسه یو میلیارد ډالره سوداګریزې اړیکې لري

د ائتلافي درو سرتیرو...

: یو بل خبر له مخې د پکتیکا په ولایت کې هم د ائتلافي خواکونو یو سرتیري په سړك کې د ایښودل شوې ماین د چاودیدو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی دی ائتلافي خواکونو وویل چې په وژل شوی سرتیری سربیره په پیښه کې یو افغان او یو بل امریکایي سرتیری هم ژوبل شوی دی د خینو راپورونو له مخې سږ کال په افغانستان کې لوه دیرش امریکایي سرتیری وژل شوی دی دا د طالبانو تر نسکوریدلو وروسته په افغانستان کې د میشتو امریکایي سرتیرو لپاره تر ټولو مرګوني پراو بلل شوی دی.

په پکتیکا کې یو تن...

خبریانه زیاتوي چې تیپیان د امریکا ځبرمه یوځي اډې ته د درملنې لپاره وړل شوي او د هغوی حالت ښه ښوول شوی

د افغانستان په ختیځ او سوېل کې په وروستو میاشتو کې د امریکایي او افغان ځواکونو په وړاندې بریدونه ډېر شوي او داسې وېره ده چې د وړې د میاشتې د ټولټاکنو په نږدې کېدو سره بې امنیتي مخ پر زیاتېدو ده

درې تنه د زنا په ...

۲۷ کلنې مېرمنې . مرضیې پر خپل جرم د اعتراف پرمهال پژواک خبري اژانس ته وویل: «یو کال کېږي چې له ایران څخه راغلې یم او له خاوند څخه مې طلاق اخېستی. ما شراب خوړلي و ، انسان یم. یو غل تېرو تلم »

شفیق او همایون چې هم په خپل جرم معترف دي د پښېمانی څرګندونه کوي. وایي: «یوه ورځ وړاندې مو له نوموړې مېرمنې سره وپېژندل او لس زره افغانی یې زموږ څخه غوښتې وې .»

یک قوماندان پولیس ...

به گفته وی، صفی الله سردسته این قاچاقچیان که در کشور تاجکستان همسرحد با ولسوالی راغ به سر میبرد ، ادعا نموده است که عنایت الله در قاچاق مواد مخدر و سلاح با این قاچاقچیان دست داشته و پنجاه میل سلاح مختلف النوع و دو نیم ملیون دالر را از این درک با خود برده بود

اما پاسوال غلام محمد فرهاد آمر لوای نمبر ۴ پولیس سرحدی با تایید این اختطاف ، ادعای اختطاف کننده ها را رد کرده و می گوید : «از اینکه قوماندان قطعه منتظره پولیس سرحدی در کوبیدن و دستگیری قاچاقبران بسیار فعال بود و مانع فعالیتهای آنها میشد ، قاچاقچیان دست به اختطاف وی و ۲۵ پولیس دیگر زده اند.» پاسوال فرهاد هرگونه معامله با اختطاف کننده گان را مردود شمرده و افزود که قاچاقچیان در ولسوالی راغ مخفی بوده و پولیس آنها را محاصره نموده است و آنها میکوشند که قضیه بدون درگیری و خونریزی حل گردد.

به گفته پاسوال فرهاد ، آنها تا به حال از سوی اختطاف کننده گان کدام شرطی را برای آزادی اختطاف شده گان دریافت نه کرده اند.

با این حال، سمیع الله قطره رئیس عمومی پولیس سرحدی افغانستان به پژواک گفت که وی نیز چنین اطلاعی بدست آورده است و آنها هیئتی را به بدخشان فرستاده اند که قضیه بعد از تحقیقات هیئت، روشن خواهد شد قطره افزود که اگر چنین اختطاقی صورت گرفته باشد ، امکان دارد از سوی گروه های قاچاقبر صورت گرفته باشد و مخالفین دولت در آن دخیل نیستند

ولې په خپل هیواد کې افغان مهاجرو...

موږ که له یوې خوا په پاکستان غږ کوو چې د افغان مهاجرو دتنګولو په ځای باید دهغو طالب او تروریستي اشخاصو مخه ونیسي چې دنیول شوو تروریستي عناصرو دخپلو وینا له مخې په هغه هیواد کې روزل کیږي او استخدام کیږي.

او له بلې خوا پخپله افغان دولت باید دخپل هیواد دجوړولو او له بهر هیوادونو څخه دافغان مهاجرو لپاره دیوه سوکاله ژوندانه دبرابرولو مسوولیت سرته ورسوی چې تر اوسه یې داکار نه دی کړی که چیرې په هیواد کې دبې روزګاری، بی کوری او بی امنیتی ستونزې حل شوی وای نو زموږ مهاجر افغانان به په پردیو هیوادونو کې ژوند کولو ته اړ شوی نه وای بلکې په هسکه غړی به دهیواد غیږې ته راستانه شوی وای ددې پرځای چې په ګاونډیو هیوادونو کې دافغان مهاجرو په شته والی فشار راوړو باید په خپل هیواد کې ورته دراتګ زمینه برابره کړو.تر څو به افغانان دلته او په پردیو هیوادونو کې له کړ او څخه ډك ژوند تیرولو باندې مجبوره اوسي

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حا جی سید داؤد
مدیر مسوول : ظهور افغان
معاون : سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com